پۀ 19 نومبر، کال 2026ء (بمطابق: 8 جمادي الثاني، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

اِنتقامي کارواياني او مونږ

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د ځوي قاتِل یې معاف کړو
- ... د اِنتقامي کاروایو پۀ بابله آیتونه مبارک
- ... اِنتقام نۀ اخستل سُنَّت دي
- ... د معاف کولو پۀ فضیلتونو باندې حدیثونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمہ**: ما د سُنّت اعتکاف نِیّت اوکړو)

د دُرُودِ پاک فضیلت

د دواړو جهانو د تاجور، سلطانِ بَحر و بَر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

اَكْثِرُوْا الصَّلَاةَ عَلَيَّ، فَاِنَّ صَلَاتَكُمْ عَلَيَّ زَكَاةٌ لَّكُمْ

ترجمہ: په ما باندې ډېر دُرُودِ پاک لولئ، بې شکه دا ستاسو د پاره پاک والے دے۔ [1]

کثرت سے دُرود اُن پہ پڑھو رب نے جو چاہا
سینے میں اُتر آئیں گے اَنوارِ مدینہ
اللہ مجھے بخش، نہ ہو حَشر میں پُرسش
کر لُطف و کرم اَز پئے سرکارِ مدینہ [2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... مسند ابی یعلیٰ، مسند ابی ہریرہ، جلد:5، صفحہ:62، حدیث:6407۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:362 ملتقطاً۔

د بيان اورېدلو نيتونه

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اورېدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ◈ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ پۀ اَدب به کښېنم ◈ ښه پۀ توجُّه به بيان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د کنځلو جواب يې بالکل ورنکړو

حضرت اَحنَف بن قيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تابعي بزرګ دے، يعنې هٰغه خوش قِسمته دے کوم چې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د صحبت نه فېض حاصل کړے دے۔ يو ځل هغوئ پۀ يو ځائے تېرېدلو نو چا هغوئ ته کنځلې اوکړې۔

دلته خو د يوې کنځلې پۀ جواب کښې چې 10 کنځلې اونکړے شي نو خلق پۀ قلار نۀ کښېنې خو دے تابعي وو، نېک اِنسان وو، چا ورته کنځلې اوکړې، هغوئ د هغه طرف ته هډو پام اونکړو، پۀ خپله لاره باندې روان وو۔ هٰغه کنځلې کوونکے چې کوم ګس وو، هغه ورپسې هم وروستو وروستو روان شو، هغوئ مخکښې مخکښې روان وو او

---

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

هغه ورپسې کنحل کول او شاته شاته ورپسې روان دے- هغوئي د هغه کنځلې اورېدلې او پۀ خاموشۍ سره روان وو، کله چې خپلې قبيلې ته نزدې شو نو ودرېدو- د هٰغه ګس طرف ته يې مخ راواړولو او وه يې فرمائيل: که چرې ستا پۀ زړۀ کښې څۀ پاتې دي نو اوس يې ووايه ځکه چې که زما د قبيلې والۀ ستا خبرې واورېدلې نو خطره ده چې تا ته تکليف وه نۀ رسوي- [1] (ځکه چې څومره کنځلې راته کول غواړې نو هم دلته يې راته اوکړه، زۀ يې اورم)- د هغوئي دا خبره چې يې واورېدله نو هٰغه ګس له شرم ورغلو او واپس لاړو-

هسې که چرې زمونږ د اوسني ماحول پۀ لحاظ سره وکتلے شي نو دا هم ډېر د کمال حِلم دے، دومره برداشت د کوم څرګندونه چې حضرت اَحنَف رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کړې ده که د دې 10 فيصده حصه هم زمونږ نصيب شي نو زمونږه پۀ معاشره کښې امن قائمېدے شي، پۀ زړونو کښې محبتونه زياتېدے شي خو کومه چې د حېرانتيا خبره ده--- هغه د دې نه مخکښې ده- واورئ!

د ځوي قاتِل يې معاف کړو

دا حضرت اَحنَف بن قيس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د کوم خپل حِلم چې دومره اعلیٰ وو، د هغوئي نه چا پوښتنه اوکړه چې تاسو دا حِلم د چرته نه زده کړو؟ دومره برداشت پۀ تاسو کښې څنګه راغلو؟ وه يې فرمائيل: دا د صحابئ رسول حضرت قَيس بن عاصِم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د صحبت فيضان دے- هغوئي د ډېر حِلم والا وو، يو ځل ما هغوئي وليدلو چې هغوئي د خپل کور نه

[1]...احياء العلوم، کتاب رياضة النفس، بيان علامات حسن الخلق، جلد:3، صفحه:91 بتغير قليل۔

بهر تشريف فرما وو، خلق د هغوئي نه ګېر چاپېره راتاؤ وو او هغوئي د خلقو سره خبرې کولې، ناڅاپه څۀ خلق د هغوئي خوا ته حاضر شو، د هغوئي سره د يو ځلمي مړے وو (يعنې يو مړے هغوئي پۀ خپلو اوګو راخستے وو)- ورسره يو بل ځلمے وو، د کوم لاسونه چې تړلے شوي وو- بيا يې برداشت ته وګورئ- حضرت قَيس بن عاصِم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے- خلق راغلل او عرض يې اوکړو: حُضُور! دا چې کوم مړے زمونږ سره راسره دے، دا د چا بل چا نۀ دے بلکې ستاسو د ځوي دے او دا ګس د کوم لاسونه چې تړلے شوي دي، دا ستاسو ورارۀ دے، ستاسو دې ورارۀ ستاسو ځلمے ځوي وژلے دے-

حضرت اَحنَف رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: حضرت قيس بن عاصِم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې کله دا خبره واورېدله نو داسې د کمال حِلم يې وو، داسې د کمال د برداشت طاقت يې وو چې هغوئي د خپل ځائے پاڅېدو هم نۀ، کومه خبره چې هغوئي د خلقو سره کوله (ظاهره ده چې صحابئ رسول دے، څۀ حديثِ پاک به يې ورته بيانولو، پۀ څۀ دِيني مسئله باندې به يې پوهه کول نو) هغوئي هٰغه خبره هم پۀ مينځ کښې پرې نۀ ښودله، پوره يې کړله- بيا يې د خپل بَل ځوي طرف ته مخ کړو او وه يې فرمائيل: د خپل ورور د پاره د کفن دفن تياري اوکړه! بيا يې د خپل ورارۀ طرف ته مخ کړو (هٰغه ورارۀ کوم چې د هغوئي ځوي وژلے وو، هغه ته يې) وفرمائيل: اے ورارۀ! ستا نه ډېره لويه ګناه شوې ده (د دې نه توبه کړه!) او (ما خو تۀ معاف کړې، البته) د وفات شوي مور له دِيت ورکړه او رضا يې کړه---!! حضرت اَحنَف رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: دې واقعې ما ته حِلم ښودلے دے- [1]

---

[1]... الاستيعاب، رقم:2164، قيس بن عاصم بن الحارث، جلد:3، صفحه:354 مفصلاً-

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د برداشت پۀ طاقت باندې غور اوکړئ! دومره برداشت---!! دومره برداشت---!! سکه ځوي يې سکه ورارۀ وژلے دے، دلته چې داسې څۀ معامله وشي نو د نسلونو پورې دښمنۍ روانې وي، پوزې پرې رانښکلے کېږي۔

دا يوه مُحاوَره ده کومه چې دلته عامه وئيلے کېږي: پوزه پرې رانښکل، يعنې مخامخ ګس ډېر ذليله او رسوا کول، پۀ سر ټيټولو مجبوره کول۔ دلته داسې کېږي۔ لونډه پۀ سوَرَه کښې ورکولے کېږي، بيا هٰغه لونډو ته ټول عمر پېغورونه ورکولے کېږي او نورې هم داسې داسې معاملې کېږي چې د بيانولو نۀ دي۔

بر ناحقه قتل کبيره ګناه ده

رښتيا خبره ده چې بر ناحقه قتل ډېر سخت جُرم دے۔ اللہ پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

مَنْ قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ (پارہ:6، سورۂ مَآئِدہ:32)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: چا چې د يو نفس [د قتل] د بدلې نه بغېر يا پۀ زمکه کښې د فساد خوررولو د بدلې نه بغېر څوک قتل کړو نو داسې ده لکه هغه چې ټول اِنسانان قتل کړل او چا چې کوم يو نفس [يو ګس] ژوندے وساتلو (يعنې د قتل نه يې بچ کړو) داسې ده لکه هغه چې ټول اِنسانان (د قتل نه) ژوندي بچ کړل۔

پۀ حديثِ پاک کښې دي، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:**

لَوْاَنَّ اَهْلَ السَّمَاءِ وَاَهْلَ الْاَرْضِ اِشْتَرَكُوافِيْ دَمِ مُؤْمِنٍ لَاَكَبَّهُمُ اللّٰهُ فِي النَّارِ

ترجمه: كه چرې د زمكې او اسمان والا ټول پۀ شريكه يو مؤمِن ووژني نو الله پاک به هغوئي ټول پرمخې دوزخ ته وغورځوي۔ [1]

اَللّٰهُ اَكْبَر! دا د يو مؤمِن اِنسان قيمت دے، كه د زمكې او اسمان والا ټول پۀ شريكه يو اِنسان بر ناحقه ووژني نو د يو پۀ بدله كښې به ټول د زمكې والا او اسمان والۅ له سزا ورکړے کېږي۔

غرض دا چې بر ناحقه قتل واقعي چې ډېر سخت جُرم دے خو زۀ چې څۀ عرض کول غواړم، هغه د صحابئ رسول عمل مبارک دے چې وګورئ! د حضرت قيس بن عاصِم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سكه ځلمے ځوي ووژلے شو، د برداشت طاقت ته يې وګورئ چې هيڅ واوېلا يې اونكړه، هيڅ شور شغرب يې اونكړو، قاتِل لا پۀ خُله معافي غوښتلې هم نۀ ده، د هغې نه مخكښې يې وفرمائيل چې ځويه! ما تۀ معاف كړې۔

د دې معافئ سره سره د شريعت لـمن هم نيسي، فرمائي: ځويه! څوک چې تا وژلے دے، د هغه مور له دِيت يعني د وينې بدله هم ورکړه۔ سُبْحٰنَ اللّٰه! دا حِلم او برداشت دے۔

او زۀ تاسو ته د مزې يوه خبره اوکړم؛ زمونږ د خورږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو نه مخكښې هم دغه د عربو خلق وو، كومو چې به پۀ معمولي معمولي خبرو جنګونه كول؛

---

[1]... ترمذی، کتاب الدیات، باب الحکم فی الدماء، صفحه:359، حدیث:1398۔

د جنګِ بَسُوس وجه

پۀ کتابونو کښې لیکلے شوي دي: کُلَیب نومې یو ګس وو، زمیدار وو، د هغه پتے وو- یو ځل د هغه د ګاؤنډي اوښه د هغه پټې ته راواوړېدله، کُلَیب هٰغه اوښه پۀ غشي وویشتله او اوښه مړه شوه- د اوښې مالِک د اِنتقام اخستو د پاره کُلَیب ووژلو، بیا دا اِنتقامي کاروائي د دې پورې زیاته شوه چې د 2 قبیلو ترمینځه د 40 کالو پورې جنګ جاري وو (الکامل)

اَللّٰہُ اَکْبَر! اندازه ولګوئ چې دا اِنتقامي کاروائي---!! د یوې اوښې د اِنتقام نه شروع شوے جنګ 40 کاله روان وو، نسلونه د هٰغه اِنتقام پۀ لـمبو کښې سوزېدل، بې شمېره ځانونه تباه شول خو د اِنتقام سلسله ختمه نۀ شوه-

دا زۀ تاسو ته د عربو تاریخ بیانووم، د جهالت پۀ زمانه کښې خلق داسې وو خو قربان شم! د دې عربو ترمینځه چې کله د دوارو جهانو محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عالَم د پاره د رحمت پۀ توګه جلوه ګر شو نو هغوئ یـې دومره کمالي او مثالي کړل چې د حضرت قیس بن عاصِم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اوښه نۀ بلکې سکه ځوي ووژلے شو او هغوئ پۀ پراخه زړۀ قاتلِ معاف کړو-

بد خُلق جو تھے وہ نیک ہوئے، لڑتے تھے ہمیشہ وہ ایک ہوئے
جھگڑے تُو نے آ کر مِیٹ دیئے، تیری فَہم و ذکا کا کیا کہنا!

مونږ او اِنتقامي کارواياني

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! افسوس! ډېره د افسوس خبره ده چې نن مونږ د اِسلامي

تعليماتو نه ډېر لرې کېږو، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو مونږ ته معاف کول ښودلي وو، خبر خواهي يې راته ښودلې وه خو اوس زمونږه معاشره د اِنتقامي کارواياو او اِنتقامي جذبو پۀ ولقه کښې راګېرېږي- چرته خو دا انداز وو چې پۀ ډېر سخت نقصان باندې به هم هيڅ اِنتقامي کارواۍ نۀ کېدله، اوس زمونږه حالات داسې دي چې پۀ ورځو ورځو خبرو ډېرې سختې کارواييِ کولے شي او د افسوس خبره خو دا ده چې زمونږ د معاشرې يو اړخ هم **د اِنتقام د لـمبو** نه محفوظ نۀ دے-

کور او اِنتقامي کارواياني: پۀ کور کښې وګورئ! ◈ ښځې او خاؤند کومو ته چې د معاشرې جامې فرمائيلے شوې دي، چې خاؤند پۀ څۀ خبره باندې خفه شي نو د اِنتقام پۀ توګه خپله ښځه تنګول شروع کړي ◈ خرچ خوراک پرې بند کړي ◈ ځينې نادانه خو د اِنتقام پۀ توګه هم خپل عزت عدالتونو ته راښکې ◈ هم دغه شان ښځې ته وګورئ چې ښځه پۀ څۀ خبره باندې غصه شي نو د خاؤند نه اِنتقام اخلي ◈ د هغه د خِدمت نه مخ واړوي ◈ د کور پۀ کارونو او ضرورتونو کښې قصداً عمداً بې پرواهي کوي ◈ د خپل پلار کور کښې د خاؤند شکايتونه کوي ◈ ځينې نادانه زنانه هم خاؤندان جېلونو او عدالتونو ته بوځي ◈ د اِنتقام پۀ توګه بچي هم اِستعمالولے کېږي ◈ مثلاً ښځه خفه ده نو بچي به د خاؤند نه لرې کړي، که خاؤند خفه دے نو هغه به ښځه د بچو نه لرې کړي ◈ خوابې د اِنتقام پۀ توګه اينګور له پېغورونه ورکوي ◈ ستغې سپورې ورته وائي ◈ اينګور پۀ ژوند ستومانه کړي ◈ هم داسې چې اينګور ته موقع مېلاؤ شي نو هغه هم څۀ ګسر نۀ پرېږدي- ◈ پۀ کورونو کښې د ورونو پۀ خپل مينځ کښې جګړې کېږي ◈ د اِنتقام پۀ توګه د وراثتونو نه محرومه کولے کېږي ◈ پۀ کارونباري معاملو کښې نورو ته نقصان رسولے کېږي

◈ ورور د وروڼو سره حَسَد کوي ◈ او ډېره خطرناکه خبره ده، پۀ ځينو علاقو کښې وروڼو، کشر تره، مشر تره او نزدې خپلوانو ته **تربوران** وئيلے کېږي يعني هغوئي دښمنان ګڼلے کېږي۔

پۀ خپلوانو او خاندان کښې اِنتقامي کارواياني: ◈ هم داسې که څوک خپل خپلوان پۀ خوشحالۍ کښې وه نۀ بللے شي نو د اِنتقام پۀ توګه هغه هم پۀ خپله خوشحالۍ کښې نۀ شاملولے کېږي ◈ پۀ واده وغېره کښې چې خپلوان خفه شي ◈ نو پۀ زوره پرې معافۍ غوښتلے کېږي ◈ پټکے پرې پۀ ښپو کښې ايښودلے کېږي ◈ [د پلار د اړخه] د نيکه بابا جان او د هغوئي د ورور ترمينځه چرته څۀ جګړه شوې وه، د هٰغه جګړې اثر د نمسو پورې رارسي، راتلونکي نسلونه يو بل پۀ وړه وړه خبره ذليله او رسوا کوي، باقاعده راتلونکي نسلونه پوهه کولے کېږي، د هغوئي پۀ ذِهنونو کښې دا خبره اچولے کېږي چې ځويه! د فلانکي سره زمونږه دښمني ده ◈ پوزه کښېښودل (يعني عزت بچ کول) دلته عامه وئيلے کېدونکي محاوره ده، دا پۀ خپل مينځ کښې هم پۀ خانداني معاملو باندې وئيلے کېږي ◈ خلق د خپلوانو نه وېرېږي، مثلاً؛ پۀ کورونو کښې څۀ دستوره (***Function***) دے، خلق وېرېږي چې فلانکي فلانکي خپلوان به هم راځي، که چرې څۀ کمے وشي نو خبرې به راپسې کوي۔

محله او اِنتقامي کارواياني: ◈ د ګاؤنډيانو خبرې يادې ساتلے کېږي ◈ هغه شور کړے وو، مونږ به هم شور کوو او هغه به تنګوو ◈ هغه زما د کور مخې ته ګاډے ودرولے وو، زۀ به هم د هغه د کور مخې ته ګاډے ودروم ◈ هغه لاره بنده کړې وه، زۀ به هم د هغه لاره بندوم

◈ هغه زمونږ پۀ غم کښې شرکت نۀ وو کړے، مونږ به هم د هغه پۀ غم کښې شرکت نۀ کوو ◈ د دې پورې چې د جنازو حساب هم ساتلے کېږي، فلانکے زما د پلار جنازې له نۀ وو راغلے، زۀ به هم د هغه د پلار جنازې له نۀ ځم۔

دغه شان **د دوستانو ترمينځه اِنتقامي کارواياني** کېږي ◈ دوست چې د څو پورې دوست دے، د هٰغه وخته پورې خو دوست دے، کله چې هم څۀ اِختلاف پېدا شي نو د اِنتقام پۀ توګه د يو بل داسې رازونه راښکاره کولے کېږي، غېبتونه کېږي چې اَلْاَمانُ وَالحَفِيظ۔۔۔!! هم داسې نورو مثالونو ته وګورئ! ◈ پۀ اِدارو کښې اِنتقامي کارواياني کېږي ◈ خان پۀ نوکر باندې ډېر بوج اچوي، نوکر د خان کار خراب کړي او اِنتقام ترې واخلي ◈ لاندې ګس د خپل نګران خلاف سازشونه کوي نو نګران لاندې ګس ذليله او رسوا کوي ◈ اُستاذ طالِبِ عِلم پۀ ډک کلاس کښې رتي، پۀ اِمتحان کښې يې فېل کوي او طالِبِ عِلم د اُستاذ پېښې کوي، د هغه بد بيانوي او پرنسپل وغېره ته د هغه پۀ شکايتونو کولو د اِنتقام لمبې وژني ◈ اوس خو د ټېکنالوجي (***Technology***) دور دے، خلق د اِنتقام د پاره سوشل مېډيا هم اِستعمالوي ◈ د اِنتقام پۀ توګه وېډيوګانې (***Videos***) جوړولے کېږي او اپلوډ (***Upload***) کولے کېږي ◈ د فوټو ايډيټنګ (***Photo Editing***) پۀ ذريعه غلط تصويرونه جوړولے کېږي او اپلوډ کولے کېږي ◈ پۀ سوشل مېډيا (***Social Media***) باندې د نورو د عزتونو خيال نۀ ساتلے کېږي او پته نۀ لګي چې څنګه څنګه ګنده او خراب کارونه کولے کېږي۔ بيا ډېر افسوسناک حالت دا دے چې خلق **اِنتقام** خپل حق ګڼي، اِنتقام د زړۀ د سړېدو ذريعه جوړولے کېږي ◈ بلکې اوس خو خلق وائي چې مونږ به د څېړې جواب پۀ سوک ورکوو۔

يعني څوک چې زمونږ سره بد کوي، مونږ به د هغې نه زيات د هغه سره بد کوو، چې څوک راته يوه خبره کوي نو مونږ به ورته دوه کوو- يعني د اِنتقامي کارواىو جذبه دومره زياته شوې ده چې د معافۍ هډو نوم نۀ دے پاتې شوے، بس بدله، بدله او هم بدله پاتې شوې ده-

د اِنتقامي کارواىانو پۀ باره کښې آيتونه مبارک

دا خبره ياده ساتئ چې اِسلام مونږ د بدلې اخستو نه منع کړي نۀ يو، آؤ! د دې حدونه يې ضرور مقرر کړي دي- داسې نۀ ده چې چا مونږ له تکليف راکړے وي نو مونږ پۀ جذباتو کښې راشو او څۀ چې مو زړۀ غواړي هغه اوکړو- نا---!! چې اِنتقام اخلې نو د هغې هم حدونه دي او که چرې معاف يې کړې نو هغه خو ډېره ښه خبره ده- يو څو آيتونه مبارک واورئ! الله پاک فرمائي:

فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ- وَاتَّقُوا اللّٰهَ

(پارہ:2، سورۂ بَقَرہ:194)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو څوک چې تاسو سره زياتے اوکړي هغه سره هُم هٰغه همره زياتے اوکړئ څومره چې هغه ستاسو سره زياتے کړے وي او د الله نه تل وېرېږئ-

وګورئ چې هٰغه خلق کوم چې وائي چې مونږ به د څېړې جواب پۀ سوک ورکوو، پۀ دې آيت باندې غور اوکړئ چې څۀ اِرشاد شول؟ څوک چې ستاسو سره زياتے اوکړي، که تاسو (بدله اخستل غواړئ نو) هم هٰغه همره بدله واخلئ، څومره چې هغه زياتے کړے دے- د هغې نه زياته بدله مۀ اخلئ-

علمائے کرام مسئله بيانوي: که چرې چا څېړه درکړه نو د هغې پۀ بدله کښې څېړه

نشي ورکولے، ځکه چې څومره زوروره څپړه مخامخ ګس درکړي وي بالکل هم په هٰغه همره زور سره څپړه ورکول ممکن نۀ دي، ځکه به د څپړې بدل څپړه نۀ وي بلکې قاضي صاحب به څۀ بله سزا ورکوي۔

تاسو اندازه ولګوئ چې که چرې بدله هم اخستل دي نو دومره اِحتياط کول دي چې ستاسو د طرف نه لږ شان زياتے هم وه نۀ شي۔ دومره د تلې په تول باندې بدل څوک اخلي؟ ◈ نن سبا خو د يو په بدل کښې 4 چنده کولے شي، د څپړې جواب په سوک سره ورکولے شي ◈ مخامخ ګس پرې صرف سترګې راويستې وې، دا صاحب د څپړې پورې ورکوي ◈ مخامخ ګس ورسره بس لږ شان لاس لګولے وو، دا صاحب پرې د څپړو باران کوي ◈ مخامخ ګس صرف يو ځل غلطي کړې وه، يو ځل يې تکليف رسولے وو، دا صاحب بيا بيا هغه ذليله کوي، په وړه وړه خبره هغه له تکليف ورکوي ◈ بلکې اوس خو خلق دومره جذباتيان شوي دي چې په معاشره کښې په ګرځېدو هم وېره ترهه خوروي، داسې کېسز (***Cases***) هم په ريکارډ باندې دي چې چا په غلطۍ کښې ديکه ورکړه نو هٰغه ګس تماچه راويستله او ډزې يې پرې اوکړې۔ دا زمونږ د معاشرې حالات دي۔ تاسو د قرآنِ کريم تعليماتو ته وګورئ! فرمائي: که چرې بدله اخستل هم دي نو د تلې په تول باندې به اخستلے کېږي، څومره چې مخامخ ګس تکليف درکړے وي، بالکل هم هٰغه همره تکليف رسولے شئ۔

معاف کول بهتر دي

په يو ځائے کښې الله پاک فرمائي:

وَ اِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖؕ-وَ لَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَیْرٌ لِّلصّٰبِرِیْنَ (پاره:14، سورۂ نَحل:126)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او که تاسو (چا ته) سزا ورکول غواړئ نو هُم هٰغسې سزا ورکړئ څنګه چې تاسو ته تکليف درکړے شوے وي او تاسو که صبر اوکړئ نو بې شکه صبر کوونکو د پاره صبر د ټولو نه بهتر دے-

دوه خبرې اِرشاد شوې: (1): ښه خبره خو دا ده چې څوک تا له تکليف درکړي نو صبر اوکړه، د اِنتقام اخستو هډو خبره مۀ کوه! دا ښه خبره ده (2): که چرې اِنتقام اخستل دي نو پۀ دې کښې شرط دا دے چې څومره تکليف مخامخ ګس درکړے دے، د تلې پۀ تول باندې هم هٰغه همره تکليف ورکړه! د هغې نه زيات نۀ شې رسولے-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ چې څومره ښکلے تعليم دے- دواړه اړخونه يو شان ساتلے شوي دي ◈ داسې هم نۀ ده چې ظ؟لم کوونکي بالکل بې مُهاره ګرځي او چا ته چې غواړي تکليف دې رسوي، د دې د مخنيوي د پاره قانون بيان کړے شو چې څوک ظُلم کوي، زياتے کوي، هغه ته به د هغه د ظُلم برابر سزا ورکولے کېږي- (خو ياد ساتئ چې دا سزا مونږ پخپله نۀ شو ورکولے بلکې مقرر کړے شوے قاضي به سزا اوروي او اِنتظاميه به پۀ هٰغه سزا باندې عمل کوي)-

◈ بل طرف ته اعلیٰ اخلاقي تعليم هم دے چې بدله اخستل اګر چې ستا حق دے خو تۀ زړۀ لوئي کړه او معاف يې کړه نو ستا پۀ حق کښې ډېره بهتره ده-

هُم پۀ معاف کولو کښې خبر دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! واقعي چې پۀ خبره ځان پوهه کول دي، مونږ چې کوم عام اِنسانان يو، مونږ بعضې وخت چې کله جذباتي هم شو، پۀ جذباتو کښې پۀ راتلو ځان نشو قابو کولے، پۀ داسې وخت کښې که بدله اخلو نو ډېره ممکنه ده چې د مخامخ ګس سره ډېر زياتے اوکړو، پۀ دې کښې سخته خطره ده، مثلاً؛ مخامخ ګس مونږ ته يوه بده خبره اوکړه، مونږ پۀ بدله کښې هغه ته 4 اوکړو نو 3 چې مو کومې زياتې اوکړې د هغې بوج به پۀ مونږ باندې راځي- دغه شان مونږ چې څنګه مخکښې مظلومان وو، نو بيا به ظالـمان شو- ځکه د خبر لاره هم دا ده چې معاف يـې کړو او د جَنَّت د حقدار جوړېدو کوشش اوکړو-

اِنتقام نۀ اخستل سُنَّت دي

زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت مبارک هم دا دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چرې هم اِنتقام نۀ اخستو- د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائِشه صِدّيقه طيبه طاهِره رَضِیَ اللهُ عَنْها فرمائي:

وَمَا انْتَقَمَ رَسُولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وَ آلِهٖ وَسلَّم لِنَفْسِهٖ، اِلَّا اَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللهِ فَيَنْتَقِمَ لِلّٰهِ بِهَا

ترجمه: رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم د خپل ذات د پاره د چا نه اِنتقام وانخستو، آؤ! که د الله پاک حدونه به مات کړے شو نو (د شرعي قاعدو مطابق به يـې) سزا ورکوله-

پۀ يو ځائے کښې فرمائي: خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نۀ خو فحش خبرې کوونکے وو، نۀ لَعَن طَعَن کوونکے وو، نۀ پۀ بازارونو کښې شور کوونکے وو **او هُم نۀ د بدو بدله پۀ**

بدو سره ورکوونکے وو بلکي هغوئ خو معاف کوونکے او حاجتونه پوره کوونکے وو۔ [1]

لور ته تکليف رسوونکے يې معاف کړو

پۀ روايتونو کښې دي: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مشري شهزادګۍ حضرت زېنب رَضِیَ اللهُ عَنْها د مکې مکرمې نه پۀ هجرت کولو مدينې منورې ته تشريف راوړلو، پۀ لاره کښې هَبَّار بن اَسوَد نومې ګس حضرت زېنب رَضِیَ اللهُ عَنْها پۀ نېزه ووهله، د کومې پۀ وجه چې هغه د اوښ نه راپرېوتله او د هغې حمل ساقِط شو۔ [2]

تاسو وګورئ چې دا څومره لوئي تکليف دے چې هَبَّار بن اَسوَد د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لور ته سخت تکليف ورسولو۔ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هَبَّار بن اَسوَد سره څۀ سلوک اوکړو؟ واورئ! حضرت جُبَير بن مُطعَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې د جِعرَانَه نه پۀ واپسۍ زۀ د سَيِّدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ناست ووم چې ناڅاپه پۀ دروازه باندې هَبَّار بن اَسوَد رااننوتلو، صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا هَبَّار بن اَسوَد دے۔ اِرشاد يې وفرمائيلو: ما دے ليدلے دے۔ يو ګس د هغه د وهلو د پاره پاڅېدو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته اِشاره اوکړه چې کښېنه۔ هَبَّار چې نزدې راغلو نو وه يې وئيل: **اے د الله نبي! پۀ تاسو باندې دې سلام وي، زۀ ګواهي ورکووم چې د الله پاک نه سوا هيڅ معبود نشته او زۀ ګواهي ورکووم چې مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله رسول دے۔** يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ ستاسو نه وتښتېدم او ډېرو ښارونو ته لاړم او

---

[1]... ترمذی، کتاب، البر والصلة، باب ما جاء فی خلق النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:488، حدیث:2016 ملخصاً۔

[2]... السیرة النبویه لابن ہشام، خروج زینب الی المدینة، جلد:1، صفحه:237۔

ما سوچ اوكړو چې عجمي ملكونو ته لاړ شم، **بيا ما ته ستاسو د زړۀ نرمي، صِله رحمي او ستاسو د دښمنانو معاف كول رايادشول-** اے د الله نبي! مونږ مُشركان وو، الله پاک ستاسو پۀ وجه زمونږ هدايت نصيب كړو او مونږ ته يې د هدايت نه نجات را عطا كړو- تاسو زما جهالت او زما ټولې هٰغه خبرې كومې چې تاسو ته رارسېدلې دي معاف كړئ- زۀ د خپلو ټولو غلطو كارونو اقرار كووم او د خپلو ګناهونو اِعتراف كووم- رَحِيم او كرِيم آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو:

قَدْ عَفَوْتُ عَنْكَ، وَقَدْ اَحْسَنَ اللهُ اِلَيْكَ حَيْثُ هَدَاكَ اِلَى الْاِسْلَامِ، وَالْاِسْلَامُ يَجُبُّ مَا قَبْلَهُ

ترجمه: ما تۀ معاف كړې- الله پاک پۀ تا باندې اِحسان كړے دے چې هغه تا ته د اِسلام هدايت دركړو او اِسلام تېر ټول ګناهونه ختموي- [1]

يا الله پاكه! زما قام ته هدايت اوكړې

پۀ غزوۀ اُحُد كښې چې كله د مدينې منورې د سُلطان، رحمتِ عالـميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غاښونه مبارک شهيدان شول او نُوراني مخ يې زخمي كړے شو نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هٰغه خلقو د پاره د دې نه سِوا هيڅ هم وه نۀ فرمائيل:

اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِيْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ

ترجمه: اے الله پاكه! زما قام ته هدايت اوكړې ځكه چې دا خلق ما نۀ پېژني- [2]

---

[1]...اسد الغابه، رقم:5341، هبار بن اسود، جلد:5، صفحه:360۔

[2]...كتاب الشفاء، القسم الاول، الباب الثانی، ضرب الثالث، فصل فی الفرق بين الحلم والاحتمال...الخ، جز:1، صفحه:87 ملخصاً۔

تاسو زما نه څهٔ اُمېد لرئ---؟

دغه شان د فتح مکه هٰغه ښکلے ساعت هم یاد کړئ! 9 هجري کال دے، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره د فتحي پهٔ شان سره مکې مکرمې ته داخِل شو، غېر مسلمه هٰغه وخت ډېر وېرېدل، د هغوئي مرئ د وېرې نه وچېدلي، د کعبې شریفې پهٔ انګړ کښې د غېر مسلمو اِجتماع وه، ټول راجمع شوي وو-

الله! الله! ◈ پهٔ دې کښې هٰغه هم وو کومو چې خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ کانړو ویشتلے وو ◈ هٰغه کومو چې کنځلې کړې وې ◈ تکلیفونه یې رسولي وو ◈ هٰغه د کومو پهٔ وجه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ځائے نه هجرت اوکړو ◈ هٰغه کوم چې د اِسلام پهٔ لاره کښې خنډان [یعني رکاوټونه] وو ◈ کومو چې به صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته تکلیفونه رَسَوَل ◈ هٰغه کوم چې یې ځاني دښمنان وو ◈ د مسلمانانو خلاف به یې سازشونه کول- اوس دا خلق پهٔ وېره ترهه کښې وو او وېرېدل چې پته نهٔ لګي چې اوس به د هغوئي نه څومره سخت اِنتقام اخستلے کېږي- هٰغه وخت د رسولانو سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل:

يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ، مَا تَرَوْنَ اَنِّي فَاعِلٌ فِيْكُمْ

ترجمه: اے د قرېشو ډلې! تاسو ته معلومه ده چې زهٔ ستاسو سره څهٔ سلوک کوونکے یم؟

اَللّٰهُ اَكْبَر! د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان ډېر ځانګړے دے، مخې ته یې ځاني دښمنان دي، غېر مسلمه دي، د دې مقدسې جُملې پهٔ اوریدو به د هغوئي د 22 کالو د ظُلم

زور واقعي د هغوئ پۀ ذهنونو کښې تاؤپدلي، سوچ به يې کړے وي چې مونږ خو د دوئ سره ډېر ظُلمونه کړي دي- د دې باوجود؛

تیرے دامن میں چھپے چور انوکھا تیرا

د ځاني دښمنانو پۀ ذِهن کښې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقو پۀ باره کښې څۀ رائے وه، واورئ! د مکې والوڼو پۀ يوه ژبه ووئيل:

خَيْرًا اَخٌ كَرِيْمٌ وَّابْنُ اَخٍ كَرِيْم

يعني اے مُحَمَّده صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږ ستاسو د طرف نه هم د خير اُمېد لرو، تاسو پخپله هم مهربانه يئ او د مهربانه ورور ځوي يئ-

پۀ دې باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آيت مبارک ولوستلو:

لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ- يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ- وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ

(پاره:13، سورۂ يُوْسُف:92)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نن پۀ تاسو هيڅ ملامتيا نشته، الله دې تاسو اوبخښي او هغه د ټولو مهربانو نه زيات مهربانه دے-

سُبْحٰنَ الله! دا دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان--!! وګورئ چې زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره اِختيار وو، که غوښتلے يې نو ټولو له به يې سزا ورکړې وه، د ټولو نه به يې اِنتقام اخستے وو خو دے د دواړو جهانو رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِنتقام وانخستو بلکې معاف کولو له يې ترجيح

ورکړه-

معاف کوونکي ته ډېر اَجر مېلاؤېږي

کاش چې مونږ هم د بدل د اخستو پۀ ځائے د معاف کولو عادت خپل کړو- الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَ جَزٰٓؤُا سَیِّئَةٍ سَیِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ - فَمَنْ عَفَا وَ اَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ -اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الظّٰلِمِیْنَ

(پاره:25، سورۀ شُوریٰ:40)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او د بدۍ بدله د هغې همره بدي ده نو چا چې معافي اوکړه او د کار اِصلاح یې اوکړه نو د هغه اجر پۀ الله دے، بې شکه هغه ظالمان نۀ خوښوي-

معلومه شوه؛ چې د قانون پۀ کرښه کښې دننه د چا نه بدله اخستل اګر چې جائز ده خو څوک چې معاف کړي او زړۀ صفا کړي، الله پاک به هغه ته اَجرِ عظیم عطا کړي-

زړۀ صفا کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دلته دا ډېره ښکلې خبره ده، الله پاک صرف دا وه نۀ فرمائیل چې چا ستاسو سره زیاتے اوکړو، تاسو له یې تکلیف درکړے دے، تاسو هغه صرف معاف کړئ، بلکې وه یې فرمائیل:

فَمَنْ عَفَا وَ اَصْلَحَ

(پاره:25، سورۀ شُوریٰ:40)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو چا چې معافي اوکړه او د کار اِصلاح یې اوکړه-

دا دوه خبرې دي: (1): چا چې معافي اوکړه (2): او کار يې ټيک کړو- يعني يو خو دا دي چې مخامخ ګس له سزا ورنکړو، د هغه نه بدل وانخلو، د دې نه پس مرحله راځي چې مونږ د هغه سره بالکل د مخکښې پۀ شان صفا زړۀ والا جوړ شو، د هغه د تکليف رسولو نه مخکښې چې څنګه د هغه سره د مينې او محبت والا انداز وو، د دې نه پس هم هٰغه شان وساتلے شي، دا اِصلاح ده- نو وه يې فرمائيل: چا چې معاف هم کړل او کار يې هم ټيک کړو، هغه د پاره د الله پاک سره اَجر دے-

بُغض هم ګناه ده

افسوس چې اوس دلته هم ډېره عجيبه معامله ده، خلق پۀ خُله خو معاف کړي خو پۀ زړۀ کښې پټه دښمني ساتي- دا ډېره خطرناکه خبره ده، دې ته کينه وئيلے کېږي- يعني پۀ زړۀ کښې پټه ساتلے شوې دښمني-

مثلاً؛ ◈ د چا سره د مخکښې پۀ شان زړۀ لګېدل نۀ غواړي ◈ د مخکښې پۀ شان د نرمیِ او مهربانیِ طرف ته زړۀ نۀ مائله کېږي ◈ د هغه سره سلام دُعا، مېلاؤ پدل زړۀ نۀ غواړي ◈ د هغه سره ښېګړه کول زړۀ نۀ غواړي، دا ټول د کينې مثالونه دي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه چغل خوري او کينه ساتنه پۀ دوزخ کښې دي، دا دواړه د يو مسلمان پۀ زړۀ کښې نۀ شي راجمع کېدے- [1]

معلومه شوه چې پۀ زړۀ کښې کينه ساتل، پۀ زړۀ کښې پټ نفرت ساتل د مسلمانانو

---

[1]... معجم اوسط، جلد:3، صفحه:301، حديث:4653-

صفت نۀ دے- ځکه مونږ له پکار دي چې که څوک زمونږ سره خراب سلوک اوکړي نو صرف دا نۀ چې مونږ هغه معاف کړو، د هغه نه بدله نۀ اخلو، د دې سره سره دا هم ضروري دي چې مونږ خپل زړۀ بالکل صفا کړو-

د څو پورې به برداشت کوو---؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن سبا چې کله د حِلم خبره اوکړے شي، چې د معاف کولو خبره اوکړے شي نو خلق وائي: هم ما له د صبر مشوره راکوئ، هم ما ته د معاف کولو وايئ، مخامخ ګس ته خو هم وګورئ---!! اخر چې اِنسان صبر هم اوکړي نو د څو پورې يې اوکړي، د کومه حده پورې يې اوکړي؟ اِنسان چې برداشت کوي نو څومره به يې کوي؟ کوم خلق چې داسې خبرې کوي، د هغوئ نه پوښتنه ده: ◈ آيا تاسو چا کوهي ته غورځولي يئ؟ ◈ آيا تاسو چا غلام جوړ کړي او پۀ بازار کښې يې خرڅ کړي يئ؟ ◈ آيا د چا پۀ وجه تاسو پۀ جبل کښې بې ګناه ډېر وخت تېر کړے دے؟ ◈ آيا د چا پۀ وجه تاسو د خپل مور او پلار نه د 30 کالو پورې جُدا پاتې شوي يئ؟ د الله پاک د نبي حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام سره دا هر څۀ وشول ◈ هغوئ کوهي ته هم وغورځولے شو ◈ هغوئ آقا وو خو هغوئ د غلام پۀ توګه خرڅ هم کړے شو ◈ هغوئ د بې ګناهۍ باوجود جبل هم تېر کړو ◈ د والِد محترم سره د ډېر زيات محبت باوجود د 30 کالو پورې د هغوئ نه جُدا هم کړے شو، د دې هر څۀ باوجود پۀ اخره کښې د هغوئ پۀ مبارکه خُله باندې درته معلومه ده چې څۀ جُملې وې؟ کله چې د هغوئ وروڼه پۀ شرم سره د هغوئ مخې ته حاضر شو، هغوئ وېرېدل چې اوس به زمونږ سره څۀ سلوک کېږي- حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام ډېر پۀ اِطمينان

سره وفرمائيل:

لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ؕ (پارہ:13، سورۂ يُوْسُفْ:92)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نن پۂ تاسو هيڅ ملامتيا نشته-

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې که څوک درته هر څومره تکليف درکړي، څومره زياتے درسره هم اوکړي، زمونږ پۂ حق کښې بهتره دغه ده، فضيلت پۂ دې کښې دے چې مونږ يې معاف کړو-

ټول اَبُو ضَمضم جوړ شئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د بيان پۂ اخره کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ښکلے نصيحت واورئ! دا نصيحت زما د پاره هم دے، ستاسو د پاره هم دے، د زيد، عَمَرو، بکر وغيره د ټولو د پاره دے- د دواړو جهانو سردار، رحمتِ عالـميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: آيا تاسو د اَبُو ضَمضم پۂ شان نشئ کېدے؟ صحابۂ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم عرض اوکړو: اَبُو ضَمضم څوک دے؟ وه يې فرمائيل: ستاسو نه پۂ مخکښينو خلقو کښې يو ګس وو، چې کله به سحر شو نو هغه به داسې وئيل: اے الله پاکه! **ما د نن ورځې خپل عزت پۂ هٰغه ګس باندې صدقه کړو (يعني هغه مې معاف کړو) څوک چې پۂ ما باندې ظُلم اوکړي-** [1]

څومره ښکلے نصيحت دے- چې مونږه هم خپل دا معمول جوړ کړو ◈ هره ورځ

---

[1]... شعب الايمان، باب: فی حسن الخلق، جلد:6، صفحه262، حدیث:8082۔

خپل عزت، خپل وقار، د خپل اوچت حيثيت رُعب، د خپلې عهدې او د څوکې غرور وغېره وغېره هغه ټول څيزونه کوم چې مونږه د بے صبرۍ او غصې د پاره راپاروي، هغه ټول څيزونه قربان کړو ◈ روزانه دا نيت اوکړو چې يا الله پاکه! نن چې څوک څوک ما تنکوي، ما هغه د مخکښې نه معاف کړل ◈ نن چې څوک څوک پۀ ما باندې کوټې اوچتوي، ما هغه معاف کړل ◈ څوک چې هم نن ما ته پېغور کوي، ما هغه معاف کړل ◈ څوک چې هم نن ما ته تکليف راکوي ◈ ما ته پۀ ترس نظر کوري ◈ ما ته کنځلې کوي ◈ پۀ ما پورې مَلَنډې کوي، اے الله پاکه! ستا د رضا د پاره ما ټول هُم د مخکښې نه معاف کړل۔

د معاف کولو پۀ فضيلتونو باندې حديثونه

◈ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: طاقتور هغه نۀ دے کوم چې پهلوان وي او بل راوپرزوي بلکې طاقتور هغه دے کوم چې د غصې پۀ وخت پۀ ځان قابو وساتي۔ [1] ◈ د الله پاک اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د چا چې دا خوښه وي چې د هغه د پاره پۀ جَنَّت کښې محل جوړ کړے شي او د هغه درجې اوچتې کړے شي نو هغه له پکار دي چې څوک پۀ هغه باندې ظُلم اوکړي دے هغه معاف کړي او څوک چې دے محرومه کړي دے هغه ته عطا کړي او څوک چې د دۀ سره تعلق پرېږدي دے د هغه سره تعلق وساتي۔ [2]

---

[1]... بخاری، کتاب الادب، باب الحذر من الغضب، صفحه:1518، حدیث:6114۔

[2]... مستدرک، کتاب التفسیر، شرح آیة کنتم خیر امة اخرجت للناس، جلد:3، صفحه:12، حدیث:2315 ملخصاً۔

◈ حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: اے زما ربه! ستا پۀ بندګانو کښې څوک ستا پۀ دربار کښې د ډېر عزت والا دے؟ الله پاک اِرشاد وفرمائیلو: هٰغه بنده کوم چې د بدلې اخستو طاقت لرلو باوجود معاف کړي۔ [1] ◈ پۀ یو حدیث کښې دي: د قیامت پۀ ورځ به الله پاک مخلوق راجمع کړي او دا اواز به کولے شي: **د فضل والا چرته دي؟** ځینې خلق به ودرېږي او پۀ تېزۍ سره به د جَنَّت طرف ته ځي، د هغوئي ملاقات به د فرښتو سره کېږي نو فرښتې به وائي: مونږ تاسو وینو چې تاسو د جَنَّت طرف ته منډې وهئ، تاسو څوک یئ؟ هغوئي به وائي: **مونږ د فضل والا یو،** فرښتې به وائي: ستاسو فضیلت څۀ دے؟ هغوئي به وائي: کله چې پۀ مونږ باندې ظُلم اوکړے شو نو مونږ صبر اوکړو، زمونږ سره بد اوکړے شو نو مونږ معاف کړل، زمونږ سره د جهالت سلوک وشو نو مونږ د صبر نه کار واخستو۔ [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق را عطا کړي۔ کاش چې زمونږ د صبر، حِلم او برداشت نِعمت نصیب شي۔ اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تُو عطا حِلم کی بھیک کر دے	میرے اَخلاق بھی ٹھیک کر دے
تجھ کو فاروق کا واسطہ ہے	یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے [3]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... شعب الایمان، باب فی حسن الخلق، جلد:6، صفحه:319، حدیث:8327۔

[2] ... شعب الایمان، باب فی حسن الخلق، جلد:6، صفحه:263، حدیث:8086۔

[3] ... وسائلِ بخشش، صفحه:138۔

پۀ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: د تفسير اورېدو او بيانولو حلقه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ زړۀ کښې د عشقِ رسول زياتولو، پۀ سُنَّتو باندې د تللو، د نېک نـمونځ ګزاره جوړېدو، د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتو عَلَيهِمُ الرِّضوَان سره د محبت حاصلولو، د هغوئ پۀ نقشِ قدم باندې د تللو جذبې حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل ټرون مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقې پۀ 12 ديني کارونو کښې هم ښۀ پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَاللّٰه اَلْکَرِيم! د دين او دنيا بې شمېره خېرونه به درنصيب شي- د ذيلي حلقې پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د تفسير اورېدو او بيانولو حلقه** هم ده-

◈ **قرآنِ مجيد زده کول ډېر د فضيلت کار دے:** ◈ پۀ حديثونو کښې داسې مضمون دے: پۀ داسې حال کښې سبا کړه چې يا خو تۀ عالِم يـې او يا د دِين طالبِ عِلم [1] ◈ د يو روايت مطابق سحر د قرآنِ مجيد يو آيت زده کول د 100 رکعتو نفلونو کولو نه بهتر دے- [2]

◈ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي عاشقانِ رسول د سحر د نـمونځ نه پس د تفسير اورېدو او بيانولو حلقه لګوي ◈ پۀ دې کښې د قرآنِ پاک درې آيتونه ◈ د هغې ترجمه او تفسير اورېدے او بيانولے شي ◈ د فېضانِ سُنَّت دَرس ورکولے شي ◈ شجره شريف لوستلے شي ◈ دُعا کېږي او ◈ پۀ اخِره کښې د اشراق او څاښت نـفلونه هم ادا کولے شي-

◈ **تاسو هم د تفسير اورېدو او بيانولو پۀ حلقه کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ!** اِنْ شَآءَاللّٰه

---

[1]... دارمی، المقدمة، باب فی ذهاب العلم، صفحه:96، حدیث:254۔

[2]... ابن ماجه، باب فضل من تعلم القرآن و علمه، صفحه:48، حدیث:219۔

اَلْکَرِیم! ډېر برکتونه به درنصیب شي ◈ د حدیثِ پاک مطابق څوک چې سحر جومات ته د نېکۍ زده کولو د پاره لاړ شي، هغه ته د عمرې ثواب مېلاؤېږي۔ [1] ◈ چې د سحر وخت پۀ نېکو کښې تېر شي نو برکت به مو نصیب کېږي ◈ ټوله ورځ به مو ښۀ تېرېږي ◈ سحر سحر به مو د عِلمِ دِین زده کولو موقع نصیب کېږي ◈ د شجره شریف پۀ شکل کښې به د نېکانو بندګانو ذِکر کېږي ◈ د هغوئي محبت به پۀ زړۀ کښې کښېني ◈ د اولیائے کرامو رُوحاني توجه به درنصیب کېږي ◈ ایمان به مو تازه کېږي ◈ د هغوئي پۀ وسیله به شوې دُعاګاني اِنْ شَآءَاللّٰہ اَلْکَرِیم! قبلېږي ◈ یو ډېر لوئي برکت دا چې د سحر **د نـمونځ نه د اشراق پورې پۀ جومات کښې ایسارېدل د خورِ مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **سُنَّت دي** پۀ دې باندې به د عمل کولو سعادت درنصیب کېږي ◈ د حدیثِ پاک مطابق څوک چې د سحر د نـمونځ نه پس پۀ ذِکرُ اللہ کښې مشغول اوسي، بیا د اشراق، څاښت نفلونه اوکړي، هغه ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې کېږي۔ [2]

وېزې مېلاؤ شوې

راځئ چې ستاسو د ترغیب د پاره یو مَدَني سپرلے واورو، یو اِسلامي ورور تقریباً د 14 کالو نه پۀ بهر ملک کښې دے چرته چې د هغه خپل کاروبار دے، هغه ته یو ځل پۀ کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پېښ شو- هغه د وېزو د پاره بیا بیا درخواستونه جمع کړل، خو د ډېرو کوششونو باوجود وېزې مېلاؤ نۀ شوې- ډېر کلونه داسې تېر شول،

---

[1]... مستدرک، کتاب العلم، باب من جاء المسجد...الخ، جلد:1، صفحه:281، حدیث:317۔

[2]... شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحه:420، حدیث:3957۔

هغه ډېر پرېشانه وو ځکه چې د ملازمانو د نشتوالي پۀ وجه د هغه نقصان کېدو- خېر هغه همت اوکړو يو ځل يې بيا درخواست جمع کړو، پۀ دغه وخت کښې يو اِسلامي ورور هغه ته د **شجرۀ قادريه عطاريه** نه د شجرۀ عَالِيَه د دُعائيه شعرونو لوستلو مشوره ورکړه- هغه د شجرې شريف دعائيه شعرونه پرله پسې لوستل شروع کړل- **اَلْحَمْدُلِلّٰه! د شجرۀ قادريه رضويه ضيائيه عطاريه** لوستو پۀ برکت د هغه ەغه کار کوم چې د تېرو ډېرو کلونو راسې نۀ کېدو، ډېر پۀ حېرانۍ سره پۀ يو څو ورځو کښې وشو او هغه ته وېزې مېلاؤ شوې-

مُشکلیں حَل کر شہِ مُشکل کُشا کے واسطے | کربلائیں رَد شہیدِ کربلا کے واسطے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

مَعرِفَةُ القُرآن موبائل ايپلي کښې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي آئي تي ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل ايپلي کښې پۀ نوم د **مَعرِفَةُ القُرآن** جاري کړے دے- تاسو د دې ايپلي کښې پۀ ذريعه ◈ د قرآنِ پاک لفظي او با مُحَاوَرَه ترجمه لوستلے شئ ◈ پۀ دې ايپلي کښې کښې د آيتونو موضوع ګاني هم ورکړے شوې دي، د کوم پۀ مدد سره چې د خپلې موضوع مطابق قرآني آيتونه کتلے کېدے او لټولے کېدے شي- پۀ خاص توګه مبلغ اِسلامي ورونه د دې آپشن نه مدد ترلاسه کولے شي ◈ پۀ ايپلي کښې کښې سرچ آپشن هم ورکړے شوے دے، د کوم پۀ مدد سره چې د آيتونو لټولو کښې مرسته کېږي ◈ د موضوعاتو د پن پوائنټ کولو آپشن هم ورکړے شوے دے- تاسو هم دا ايپلي کښې انسټال

كړئ! پخپله ترېنه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

يو څو ضروري اِعلانات

◈ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي خالي پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چينل د ماسخوتن د نمونځ نه پس تقريباً 8 بجې اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کېږي، پۀ کومه کښې چې به شېخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شېخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې **ديني رسالې** لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **نجات ورکوونکي خبرې (مِنهاج العابدين قسط: 3)** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل مېډيا مثلاً واټس اېپ وغېره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر (***Share***) کړي! ◈ مکتبة المدينه د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ژوند پۀ حالاتو ډېر ښکلے کتاب **امیر اہل سنت کی کہانی انہی کی زبانی** چاپ کړے دے پۀ دې کتاب کښې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ◈ پلار نيکونو ◈ د هغوئي د ماشومتوب يادونه او د ځوانۍ ورځې ◈ د عِلمِ دِين شوق ◈ د دعوتِ اِسلامي نه مخکښې دِيني حلې ځلې ◈ ازدواجي ژوند او اولاد ◈ د هغوئي عادتونه او معمولات ◈ او د دعوتِ اِسلامي

په باره کښې ډېر څۀ بيان کړے شوي دي- دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د هرې څانګې نه پۀ **يو زر روپې** پۀ ښه حاصل کړئ، پخپله يـې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

نوټ: د خپلو وفات شوو د ايصالِ ثواب او خوشحالۍ پۀ موقعو د مکـتبة الـمدينه د کتابونو او رسالو ستالونو لګولو د پاره پۀ دې نمبر باندې رابطه اوکړئ-

0313-1139278

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سينہ تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! | جنّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

د ګل او د زيارت د ورځې روژه د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د ګل او د زيارت د ورځې روژه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت مبارک دي- د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت

---

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا فرمائي: زما سرتاج، صاحب د معراج صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ګل او د زيارت روژې پۀ اهتمام سره نيولې۔ (1)

مونږ له هم پكار دي چې كه چرې صحت اِجازت راكړي نو د ګل او د زيارت د ورځې د روژې بندوبست اوكړو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! پۀ سُنَّت باندې د عمل كولو سره سره به مو ډېر بركتونه نصيب شي۔ **خو ياد ساتئ!** ◈ كه د نفلي روژو پۀ وجه پۀ كار روزګار كښې ناراستي راځي نو د روژې د نيولو اجازت نشته ◈ چرته چې هم د نفلي روژې پۀ وجه پۀ څۀ افضل كار كښې څۀ خنډ [يعنې ركاوټ] جوړېږي هلته دې روژه نۀ نيولے كېږي (مثلاً د يو اِسلامي ورور ذمه واري داسې ده چرته چې د اولس سره ډېره واسطه راځي او د روژې نيولو پۀ وجه د هغه پۀ طبيعت كښې تريخ والے پيدا كېږي خو اګر چې كار پوره كېږي خو د خلقو سره د بد اخلاقۍ نه بچ كېدل د نفلي روژو پۀ مقابله كښې ډېر ضروري دي) ◈ مور او پلار كه چرې ځوي د نفلي روژې نه ځكه منع كوي چې د هغه د ناروغه كېدو اندېښنه ده نو د مور او پلار تابعداري دې اوكړے شي ◈ د خاوند د اِجازت نه بغېر سُنّۀ نفلي روژه نشي نيولے۔ (2)

د مختلفو سنتو زده كولو د پاره د مكتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده كولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو

---

[1]... ترمذی، کتاب الصوم، باب ماجاء فی صوم یوم الاثنین...الخ، صفحہ: 208، حدیث: 746۔

[2]... اعرابی کے سوالات، صفحہ: 110، 111 ملتقطاً۔

ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق را عطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِک عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعې او زیارت پۀ مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پۀ پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پۀ وخت کښې د مَدَنې آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم دِیدار کوي او قَبر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَنې آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. [1] راځئ چې مونږ هم پۀ شریکه دا دُرُود ووائیو.

---

[1]... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحہ: 151، خلاصۃً۔

﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِ نَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولا ړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغۀ ګُناهونه مُعاف کړے شي. [1] راځئ چې مونږ هم پۀ شريکه دا دُرُود ووائيو.

﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پۀ هغۀ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. [2] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريکه ووائيو.

﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. [3] راځئ چې پۀ شريکه يې ووائيو.

1... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحہ:65۔

2... قَوْلُ البَدِيْع، بابِ ثانی، صفحہ:277۔

3... اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحہ:149۔

﴿5﴾ د خورِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہ عَلَیہِ واٰلِہٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہ عَلَیہِ واٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہ عَنہُ تر مینځه کښینولو، پۀ دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللہ عَنہُم حیران شو چې دا څوک اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّی اللہ عَلَیہِ واٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دے چې کله پۀ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې یې لوَلي.[1] راځئ چې مونږ یې هُم پۀ شریکه ووائیو.

﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہ عَلَیہِ واٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغۀ د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شریکه ووائیو.

﴿1﴾ د یو زر [1000] ورځو نیکی:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہ عَنہُما نه رِوایت دے چې مَدَنی آقا صَلَّی اللہ عَلَیہِ واٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د یو زر [1000] ورځو پورې نیکی لیکي.[3] راځئ چې مونږ یې هُم پۀ شریکه ووائیو.

1... قَوْلُ البَدِیْع، بَاب اَوَّل، صفحه:125۔

2... الترغیب والترہیب، کِتَابُ الذِّکْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔

3... مَجْمَعُ الزَّوَائِد، کِتَابُ الْاَدْعِیَہ، جلد:10، صفحه:254، حدیث:17305۔

﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا دري ځله ولوستله نو لکه هغۀ چې شبِ قدر حاصل کړو-[1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پۀ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **الله** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **الله** پاک دے، د اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش **رَبّ**)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... تاريخ ابنِ عساكر، 155/19، حديث:4415